Hand it over to
Sir Muallim Afzal

س- نثر څه ته وائي؟ پښتو کښې نثر څه ته وائي؟
س- پښتو کښې د نثر څومره ځانګلې دي؟
س- په پښتو کښې د نثر ارتقاء بیان کړئ؟
س- زوړ او نوي نثر خصوصیات کښې څه فرق دے؟

## نثر:

نثر دغه کلام ته وائي چې د وزن د قید نه آزاد وي.
یا د نظم ضد وي.
قاضي عبد الحلیم اثر افغاني د نثر تعریف داسې کوي:
"نثر په لغت کښې شیندلو، اچولو او خورولو ته وائي او په اصطلاح کښې دغه کلام دے چې د وزن د قید نه خالي او آزاد وي."
بناغلي سید انوار الحق د نثر تعریف په دې ډول کوي:
"نثر په اصل کښې د عربي ژبې لفظ دے او معنی ئې ده نوشل، خورول او شیندل او اصطلاحي معنی ئې د نظم ضد دے."
ځ ادیبانو او عالمانو د نثر باره علمي تعریف دا مقرر کړے دې:
"کلام چې په څه وزن یا بحر کښې نه وي، نثر دے."

د نثر دپاره دا علمي تعریفونه نا کافي دي ځکه چې د پو تسیم نثر په ځینو ځایونو کښې د قافیې التزام وي او په یو بل کښې د نوي زمانې د آزاد نظم په شان د وزن هم خیال ساتلے شوے وي. بیا هم داسې کلام ته نثر ویلې شي او په مقابله کښې نه آزاد نظم واخلو چې پکښې یو مضمون په ډیرو مسلسلو ، روانو او ساده وضعو ویه لولو او بغیر هم وزن نه عنصر نه کښې ادا کړے شوے وي، بیا هم داسې کلام ته نظم ویلے شي- لنډه دا چې نثر روان او عام فهم لیک دے او د نظم ضد دے- او د خبرالو اظهار پکښې په خلاص مټ کیدے شي.

د اخبار، ټي وي، ریډیو، مقالې، لطیفې وغیره دا ټول نثر دے.

## پښتو ادب کښې نثر:

پښتو نثر کښې د سالو وړمه
وړومبے نثر لیکمے کتاب شي چې د نن نه تقریباً دولس سوه کاله مخکښې څه په دریمه صدۍ هجري کښې ابو محمد هاشم د عربۍ په فصاحت او بلاغت ترجمه کړې ده. دا کتاب اګرچې یو خو پاڼې دي خو د پښتو ادب سرمایه ده. دې نه علاوه تاریخ سوري او د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء د پښتو داسې نثرونه دي چې له یوه مرغه نمونه ئې ښودلې شي وهي مثالونه نشته.

دغه وجه ده چې د بېر روښان "خیر البیان" د پښتو نثر وړومبے کتاب ګڼلے شي. کوم چې په کتابي شکل کښې نن موجود دے. دغه شان اخوند درویزه بابا "مخزن" کتاب لیکلے دے. او تواریخ حافظ رحمت خاني او د افضل خان خټک تاریخ مرصع هم نثري کتابونه دي.

## د نثر څانګې:

• د نثر کښې قسمونه دي. ~~ڈاکټر~~ ډاکټر محمد طاهر فاروقي د قسمونو تجزیه داسې کړې ده.

### 1- نثر مسجع:

نثر مسجع هغه نثر ته وئیلې شي چې په هغې کښې د یوې فقرې اخري ټکي د بلې جملې د اخري ټکي سره هم قافیه وي. که چېرې ردیف هم لري نو هغه به د معمول مطابق

Da de zarurat nashta

وي.

### 2- نثر مرجز:

هغه نثر ته وئیلې شي چې په هغې کښې د یوې فقرې اکثر ټکي د بلې فقرې د مقابل الفاظو سره برابر وزن لري، خو هم قافیه نه وي.

### 3- نثر مرصع:

هغه نثر ته وئیلې شي چې په هغې کښې د یوې فقرې ټول الفاظ د بلې فقرې د الفاظو سره هم وزن او هم قافیه وي.

### 4- نثر عاري:

نثر عاري هغه نثر ته وئیلې شي چې د هغې په فقرو کښې د وزن او قافیې هیڅ قید نه وي او په ساده طریقه په صحیح ژبه او د روزمره مطابق پکښې مطلب بیان کړې شي.

• بنیادي قاضي عبدالحلیم اثر افغاني نثر په دوه ټوټو وېشلې دي: معنی په لحاظ او د لفظ په لحاظ.

Da de zarurat nshta

### 1- د معنی په لحاظ د نثر قسمونه:

1- یو هغه تحریر چې معلوماتي د لوبو د لوبډلو د پاره والو.
2- خطابه (وینا). تقریرونه او بیانونه چې یو هغه خلق او عالمان ئې د خلقو او ایمو مقصدونو او د اوریدونکو د تسلي د پاره په جلسو، جرګو، غونډو وغیره کښې وائي. دا قسمه نثر په پښتو ژبه کښې

زبات دي. خو لیکلي نثرونه ئې چیرې کمې دي. سیاسي، دیني، اخلاقي، اجتماعي، علمي او ادبي مضمون قسمونه ئې دي.

3- تحریر (تبدیل، لیک) - هغه نثر دی چې د خطونو، مطلبونو او کتابونو د لیکلو د پاره استعمالیږي.

## 2- د لفظ په لحاظ د نثر قسمونه:

1- لو هغه دی چې د قافیې او سجع التزام پکښې شوی وي. دې قسم ته قافیه دار مسجع او مرصع نثر وائي.

2- بل هغه دی چې قافیه نه لري. دې ته آزاد نثر یعنې بې قافیې نثر ویلي شي. موجوده وخت ټول لیکونه، کتابونه او اخبارونه هم په دې نثر کښې لیکلي شي.

## د پښتو نثر ارتقاء:

پښتو کښې د نثر ارتقاء چې وګله شوي ده. د ارتقاء مطلب تکامل (evolution) یعنې د ورو ورو انقلاب ته واخله تر نن تاریخ پورې چې څومره شاهونه لیکلي شوي دي او هغې کښې چې څومره بدلونونه راغلي دي یا پکښې څه ترقي شوې ده نو هغه په څلورو دورونو کښې تقسیم شوي دي.

## 1- د پښتو نثر اولني دور (223 - 900 هجري):

د پښتو د نثر د اولني دور په حقله موږ سره څه ښکاره او په زړه پورې ثبوتونه معلومات نشته. بیا هم که څه نه څه خاکه زموږ په وړاندې د دغه دور په حقله راځي نو هغه د "پټې خزانې" له

برکته راځي. "پټه خزانه" د محمد هوتک داسې تالیف دے چې د اولني دور د تاریخ په حقله زمونږ لپاره ډیره لار ښودنه کوي. اولني دور کښې چې کوم لیکوال تیر شوي دي، هغوي کښې ابو محمد هاشم سرواني، سلیمان ماکو، محمد بن علي البستي، احمد بن سعید لودي، شیخ کټه متي زي، شیخ ملي او خان کجو شامل دي.

د پټې خزانې مطابق د پښتو نثر اولني کتاب "د سالو وږمه" دے. دا کتاب په ٢٢٣ هجري کښې ابو محمد هاشم سرواني لیکلې دے او دې کتاب کښې ئې د عربو فصاحت او بلاغت بیان کړے دے.

د پټې خزانې مطابق د دې دور دویم کتاب "تذکرة الاولیاء" دے. دا کتاب ٦١٢ ~~[illegible]~~ [٦١٢] هجري کښې سلیمان ماکو لیکلې شوې دے.

د دې دور بل لیکوال محمد علي البستي دے، "تاریخ سوري" کتاب په ٦٥٠ [٦٥٠] هجري کښې لیکلي شوي ~~وو~~ دے. دې کښې د سوري بادشاهانو حالات او تاریخ لیکلي. بل نثر نګار احمد سعید لودي، په ٦٨٦ [686] عیسوي کال خواوشا تیر شوے دے هم د دې بادشاهانو حالات په کتاب "اعلام اللودعي في الاخبار للودي" کښې لیکلي دي. د پټې خزانې مؤلف ئې ذکر کړے دے.

د پټې خزانې مطابق بل کتاب "لرغوني پښتانه" دي، دا کتاب شیخ کټه متي زي په ٧٥٠ [750] عیسوي / هجري کښې لیکلې دے. د "لرغوني" مطلب "پښتواني" دي. دې کتاب کښې د پښتو مشاهیرو او شاعرانو حالات لیکلي شوي دي.

شیخ ملي هم د اولني دور لیکوال دی. د "شیخ ملي دفتر" ئې د کتاب نوم دے او 830 هجري کښې لیکلې دے. د شیخ ملي اصل نوم "آدم" وو او دی د زمکو د تقسیم ماهر وو. خوشحال بابا ئې هم ذکر کړې دے:

په سوات کښې دی دوه څیزه کوم خفي دي که جلي
مخزن د درویزه دے بل دفتر د شیخ ملي

د اولني دور آخري کتاب "تاریخ خان کجو" دی او دا کتاب په 900 هجري کښې خان کجو لیکلې دی.

د اولني دور (553 هجري) وړومبے کتاب د "سالو وږمه" دی. کوم چې 553 هجري کښې لیکلې شوې وه او د دې دور آخري کتاب "تاریخ خان کجو" دے. کوم چې په 900 هجري کښې لیکلې شوې دے.

## ج- د پښتو نثر دویم دور {900 - 1100 هجري}:

دویم دور کښې دوه لیکوالان ډیر اهم دي، او ورسره د دې کتابونه هم اهم دي، ځکه چې دا کتابونه زمونږ په وړاندې دي.

اولنې لیکوال پیر روښان دی. د پیر روښان اصل نوم "بایزید انصاري" دے. پیر روښان "خیر البیان" کتاب لیکلې دی.

دویم لیکوال اخون درویزه بابا دی. اخون درویزه "مخزن الاسلام" کتاب لیکلې دی.

د اخون درویزه او پیر روښان نه علاوه د دې دور نور نثر نګاران ملا مست زمند، الله یار، کریم داد شیخ قاسم، جان محمد، شیخ بستان پیر بخش او حسین دي.

## • د دویم دور خصوصیات :

1- د ساده او آسان نثر ځای فني او مشکل نثر ونیوه. په نثر کښې د وزن او مسجع التزام لازمي ګڼلې شو، وعظ او نصیحت مذهبي خبرې، اخلاقي تعلیمات او تاریخي واقعات پکښې بیان شو لکه د پیر روښان (خیر البیان) او د اخون درویزه بابا (مخزن الاسلام) وغیره.

2- دویم دور کښې د موضوع په لحاظ پښتو نثر کښې تصوف، اخلاقي، مذهب او نور کن موضوعات پښتو ادب ته داخل شو او پښتو نثر کښې وسعت پیدا شو.

3- دې دور کښې د تاریخ په موضوع باندې هم کتابونه ولیکلې شو.

4- دې دور کښې پښتو نثر کښې د فارسي نه کن تلې استعمال شروع شول او پښتو ادب ته داخل شول.

5- د پښتو نثر دې دور کښې د ډیرو کتابونو د عربي او فارسي نه پښتو ژبې ته ژباړلې وشولې.

## 3- د پښتو نثر دریم دور (1100 - 1300 هجري):

دا دور د پښتو نثر د پاره ډېر ارزښت (اهمیت) لري. د دې دور مشهور لیکوال دا دي: خوشحال خان خټک، عبدالقادر خان خټک، افضل خان خټک، محمد هوتک او پیر محمد کاکړ وغیره.

کله چې د خوشحال خان خټک یا د خټکو کورنۍ د مغلو سره دښمني شوه نو خوشحال خټک د پښتنو د یووالي لوله د پاره د پښتونو د ډېرو علاقو سفر اوکړه، مثال په طور صفحه سوات ته لاړے - خوشحال بابا وائي:

په سوات کښې دي دوه څیزه کره خفي دي که جلي
مخزن د درویزه دے بل دفتر د شیخ ملي

دې ګبران مې اولید لا رم تر سوات پښتنون مې اولید لوې لوزار
حق وهمت مې دیا او نه لید، په بیرته الله ناست یم الامان

پښتو کښې اولنۍ سفرنامه یا سوات نامه خوشحال خان خټک لیکلې ده چې پښتو ادب ته ډېره فائده اوشوله.

دویم دا چې په پښتو کښې د دې جګړې د وجې نه نیشنلزم یا قوم پرستي راغلې / راغله.

د خټکو د کورانۍ په وجه. ځکه چې پښتو ادب کښې د شعر برخه زیاته ابړے شې ولې د نثر برخه کمزورې په نظر راتې، نو پښتنو خپله ژبه کښې لیکل او ویل شروع کړل نو د مغلو او پښتنو د نښتې نه پښتو ادب او نثر ته ډېره فائده اوشوله.

بل دا چې په نثر کښې خوږ والے، رواني، آساني او سادګي راوسته. نثر کښې د محاورو او متلونو استعمال شروع شو. دغې کښې ګرائمر استعمال شروع شو او د نثر جملې ئې ورې ورې کړې او پښتو ئې د نوې طرز، خیال او نوي اسلوب سره اشنا کړه.

## • د دریم دور خصوصیات:

1- دې دور کښې د عربۍ ژبې ټکي پښتو ژبې ته راننوتل.

2- د پښتو نثر دې دور کښې د عربۍ او فارسۍ کتابونو پښتو ته ترجمه شول. خوشحال خان خټک د خپلو مشهورو تصنیفو (دستار نامه، طب نامه او باز نامه وغیره) لیکلو نه علاوه د فقهې مشهور کتاب هدایه د عربۍ نه پښتو ته ترجمه کړو، داسې عبدالقادر خان د شیخ سعدي مشهور کتاب ګلستان د فارسۍ نه پښتو ته وژباړه. افضل خان خټک هم د ادبي او تاریخي لحاظ سره "تاریخ مرصع" کتاب اولیکلو او داسې "عیار دانش" هم پښتو ته ترجمه شو.

3- د قیصو کتابونه هم پښتو نثر کښې ولیکلې شول چې ادم خان

دړ خاني ژ ترجمه، د ابراهيم، قوم بادشاه او سيف الملوك'.

## ۴- د پښتو نثر څلورم دور یا جدید دور، شلمه صدي او د هغې نه پس:

شلمې صدۍ نه د پښتو نثر څلورم دور یا جدید دور ویلې شي. دې دور کښې پښتو ژبه خپل عروج ته ورسیده او په بین الاقوامي سطح باندې ئې ډیلاشرونکو عوږوه. پښتو ژبه کښې مذهبي کتابونه اوليکلې شو. د تفسیر او فقهې مسئلو کتابونه ولیکلې شول. د قرآن او د حدیثو کتابونو ترجمې اوشولې.

دې نه علاوه قيصې او لغتونه هم اولیکلې شول. د پښتو ادب وړومبۍ افسانه "کوټره جینۍ" هم په دې دور کښې راحت زاخیلي په ۱۹۱۷ء کښې ولیکله. د پښتو وړومبۍ ډرامه او ناول هم په دې دور کښې اولیکلې شول. د نثر جدید دور د پښتو ادب او نثر د ټولو نه ترقي یافته دور دے.

## • د زوړ او نوي نثر خصوصیاتو کښې فرق:

د پښتو نثر
وړومبے او دویم دور زوړ نثر بللې شي. وړومبې دور د نهمې [۹] صدۍ هجرۍ نه شروع کیږي او دویم دور د نهمې صدۍ هجرۍ نه تر یوولسمې صدۍ هجرۍ پورې دے. یعنې 223 نه تر 1150 او بیا 1150 نه تر اوسه پورې.

## د زوړ نثر خصوصیات:

### ۱- د نظم اثرات:

زوړ نثر باندې د نظم اثرات واضحه ښکاري. یعنې په زوړ نثر کښې کوم نثر لیکلې شوې دے نو هغه کښې د قافیې او د ردیف ګټ ساتنې استعمال دے.

### ۲- د عربي او فارسي استعمال:

په زوړ نثر کښې د فارسۍ او عربۍ ژبو استعمال ډیر زیات دے. د دې وجه دا ده چې د هغه وخت د حکومت دفتر سرکاري ژبه فارسي وه او په دیني عقائدو باندې خان پوهولو د پاره عربي لازمي ګڼلې شوه.

### ۳- د علاقائي ژبې اثرات:

د علاقائي ژبې په زوړ نثر باندې ډیر اثرات دي یعنې څوک به چې د کومې علاقې وو، هغه به د هغه ځاے په لهجه کښې کتاب لیکلو: د بایزید انصاري کتاب "خیر البیان" کښې د اورمړو، یوسفزو او د افریدو علاقو الفاظ ډیر استعمال شوي دي، د غه شان د اخون درویزه بابا په کتاب "مخزن اسلام" کښې د یوسفزو ژبې رنګ دے ولې چې هغه په یوسفزو کښې وخت تیر کړے وو.

### ۴- اصلاحي رنګ:

د اصلاحي رنګ مطلب دا دے چې د دعوت، تبلیغ او د نیکۍ خبرې وې دې دور کښې.

### ۵- خطیبانه انداز:

د زوړ نثر انداز خطیبانه دے، یعنې یکښې

د جذباتو خبري وي؛ لکه چې يو امام خپل مقتديان يا يو سالار خپل فوځ ته خطاب کوي دی ته خطيبانه انداز وايي۔

## د نوي نثر خصوصيات:

### ۱- د نظم اثرات ختمېدل:

په نوي نثر باندې د نظم اثرات ختم شول۔ نثر او نظم دواړو د يو بل د اثراتو نه آزاد شول او ادب ته په ادبي ډول روان شول۔

### ۲- د عربي او فارسي الفاظو استعمال کمېدل:

په زوړ نثر باندې د عربي او فارسي اثرات ډېر وو ولې په نوي نثر باندې دا اثرات ډېر کم شول۔ په نوي نثر کښې صرف هغه الفاظ استعمالېږي چې د پښتو ژبې مستقله حصه ده۔

### ۳- د علاقائي لهجو اثرات کمېدل:

په نوي نثر باندې د علاقائي لهجو اثرات ډېر کم دي او په نوي نثر کښې د لهجې په لحاظ سره يو والي او يکسانيت ښکاري۔

### ۴- د ګرامر استعمال:

د زوړ نثر په مقابله کښې نوي نثر د ګرامر پابند شو او پښتو ادب د نړۍ د نورو ژبو د ادب سره مقابله کښې ودرېدو۔

## 5 - لغت نګاري:

نوي نثر نګارانو د پښتو په رغښت بارزې
ډېر کار کړی دی، مطلب دا دی چې دی چې دوی ښې ډکشنرۍ
لیکل شروع شو او وروسته د دغې استعمال شروع شو. لغت
ډکشنري ته ویلې شي او ورته قاموس هم ویلې شي. مختلفو
ادیبانو خپل رغښتونه تیار کړي دي چې د پښتو ادب په پښو
بیا اشاته ده.